## د پودکاستونو اوومه برخه

## وچکالي

جنبش: افغانستان سږکال بیا تر دې مهاله نسبتاً وچ ژمی تجربه کړ او په ډېرو ځایونو کې د اورښت او واورې کچه له عادي حالت نه ټیټه پاتې شوې ده. وچکالي معمولاً د افغانستان اقتصاد ټول ځپي، خو دوه مهم بنسټونه یعنې کرنه او مالداري خورا سخت زیانمنوي. له دې امله نن غواړو له ولسمشر محمد اشرف غني سره د هغوی په نوبنې پودکاسټ کې چې تېره خپرونه کې هم په اقتصاد وغږېدو، د وچکالۍ اغېز په اقتصاد او په تېره بیا په کرنه، مالدارۍ او دغو برخو [کې وڅېړو]، په عواملو یې تم شوو، عواقبو باندې یې نظر وکړو او اوږدمهاله چارې یې وسپړو.

به تمام شنونده‌گان و علاقه‌مندان این سلسله برنامه‌ها خیر مقدم میگویم. من داود جنبش استم. این شماره را هم با سلام به مهمان عزیز خود آغاز میکنیم.

دوکتور غنی خوش آمدید.

محمد اشرف غني: بسم الله الرحمن الرحیم. تشکر از جناب شما و تمام وطندارها و سلام های من تقدیم تمام خواهران و برادران ما در افغانستان و در تمام اکناف جهان.

داود جنبش: تشکر از شما، مننه استاده.

تېره ګڼه کې د اقتصاد په کلیاتو لنډ وغږېدو ژمنه مو هلته کړې وه چې نور اړخونه به یې ورو ورو په بېلابېلو خپرونو کې را اخلو [او] څېړو به یې. نن [به] د وچکالۍ موضوع را وڅېړو. په اقتصاد یې اغېز شته، چاپېریال زیانمنوي، روغتیا، کلیوالي او ښاري ژوند، په دې ټولو برخو باندې یې تاثیرات ټولو ته معلوم دي، فکر کوم بشریت د تاریخ په اوږدو کې ورسره بیا بیا مخامخ شوی، زیانونه یې کله کله ثبت شوي او راغلي دي. مذهبي متونو کې هم ورته اشارې شوې دي د ساینس توجیه به یې لږه وروسته ولرو تاسې سره به پرې خبرې وکړو، د مذهب توجیه ورته څه ده ؟

دوکتور غني : زموږ په مبین دین اسلام کې مهم‌ترینه سوره چې د وچکالۍ موضوع په ډېره دقیقه او هر اړخیزه توګه په کې مطرح شوې، هغه سوره ده چې د حضرت یوسف علیه السلام په باره کې ده. حضرت یوسف ته خدای (ج) دا ظرفیت ورکړی و چې د خوبونو تفسیر وکړي. هغه وخت چې دی په مصر کې بندي‌خانې کې و، د مصر پاچا خوب ولیده چې ډېر قوي ۷ غوایان به د ۷ کمزورو غوایانو له خوا وخوړل شي او همدغه رقم د غنمو وږي [به] وچ

شي. نو د حضرت یوسف علیه‌السلام تفسیر دا و چې ۷ کاله به ښه حاصلونه راشي او پس له هغه [به] ۷ کاله وچکالی راشي، [نو] ده تدبیر ونیوه او د مصر خاوره مدیریت شوه. له ټولو ګاونډیو [سیمو] نه خلک مصر ته د غنمو [ترلاسه کولو] لپاره راغلل چې په هغه کې د ده ورونه [هم] وو چې دی یې په ځاه کې اچولی و. نو دلته څو خبرې دي: یو خدای ﷻ علایم [را] ولېږل او بشر ته یې ظرفیت ورکړ چې د دې علایمو تعبیر وکړي. اما پس له هغه نه، مشروعیت د وچکالی [په مدیریت پورې] تړلی و. د خلکو هوسایي په [همدې] اساس ده، له دې نظره د وچکالی مدیریت [له] پېړیو [راهیسې] یوه ډېره مهمه برخه د بشر د ژوندانه ده. موږ ډېر تمدنونه لیدلي په شمول د سیستان د لوی تمدن چې د وچکالی له [امله] له منځه لاړل. همدغه رنګه په عراق کې او نورو ځایونو کې [هم شوي]، نو دا [حالات] بار بار راغلي [دي]. خبره دلته [دا] ده، هر څوک چې د خدمت او خاصتاً د حکومتدارۍ [دعوه] لري، د وچکالی مدیریت یې د مشروعیت او تحکیم لپاره اساسي برخه ده او دا الهي فرمان دی.

داود جنبش: وقتی میگوییم خشکسالی، ایا تنها عدم بارندګي یا بارندګی قلیل است یا عناصر دیگر و کتګوری های مختلف در آن دخیل است؟

دوکتور غني: حد اقل سه تعریف عمده وجود دارد. یک نکته کلیدی که از این جهت تقریباً مرادف به خشکسالی تعبیر شده، مقدار بارش است. قسمت دوم موجودیت آب در دریا ها، چشمه ها، کاریز ها وغیره، و در عین حال سرعت حرکت و موجودیت آن در فصل‌های مختلف است. و نکته سوم [که] کمتر برایش توجه شده، اما در زنده‌گی مردم تاثیر مستقیم دارد؛ مقدار آب در خاک است، و یکی از علایم عمده این بخش سوم حفر چاه‌ها است. در کابل در دوران طفلی و جوانی من در چهار تا پنج متر [آب] می برآمد، حالا [وقتیکه چاه را حفر میکنید شاید] تا ۶۰ متر رسیده باشد. تمام شهرهای عمده افغانستان این مشکل سوم را به صورت اساسی دارند. امروز یکی از کلیدی‌ترین نکات برای هموطنان ما که کشت خزانی را انجام داده اند، مقدار آب در خاک است. یک قسمت زیاد هموطنان ما منتظر استند که آیا کشت بهاری را بکنند و مخصوصاً کشت للمی را، منتظر این استند تا ببینند علایم چیست؟

داود جنبش: استاده زه نه پوهېږم چې زموږ په هیواد کې به د وچکالیو اسناد رسمي له کوم وخت نه ثبت شوي وي، په کیسو او افسانو کې شته، زما خپله د ۱۳۵۰ کلونو سخته وچکالي یادېږي او یو سند یې هم راسره شته. ما خپله د پاچاهي [پېر] تذکره هم ساتلې ده، هغې کې یو ځای کې لیکي چې ( هشت سیر ګندم داده شد) هغه وخت یې کورنیو ته غنم ورکول البته زما دا حادثه نه یادېږي چې څنګه وه، اما هغه تذکره کې دا شی راغلی. د امیر شیرعلي خان د وخت ځینې پېښې په نکلونو کې پاتې دي، په دغه یوه نیمه پېړۍ کې چې له هغه وچکالی‌نه تېره شوې دا ګراف پورته خو تللی اما څومره پورته تللی؟ په کوم تناسب؟

دوکتور غني: څو برخو باندې که تفکيک وکړو، يو هغه ډېرې لويې وچکالۍ دي چې ډېر سخت آثار يې پرېښي دي. لومړی د امير شيرعلي خان په دوران [يعنې] ۱۸۷۲ ميلادي کې، ايران [چې] هغه وخت [يې] فارس ورته ويل او شمالي او غربي افغانستان کې، يوه ډېره سخته وچکالي راغله. ايران کې تقريباً دوه ميليونه نفره هلاکت ته ورسېدل. شمال د افغانستان کې [يې] زښت ډېر تاثير په دې [وکړ] چې کلي وو، [خو] انسانان له منځه تللي وو. نو د دې اثرات اوږدمهاله وو ځکه هم اوبه [وې]، هم خاوره وه، [هم] امکانات وو، اما نفوس نه و. [افغانستان] ډېر سخت د نفوس [د کموالي سره] مواجه شو، ځکه [بيا] د کوهستان د کابل نه لومړی، او نورو ولاياتو نه هغه خوا ته حرکت، پس ته شروع شو.

دويمه لويه وچکالي هماغه ده د اعليحضرت [محمد ظاهر شاه] په اخرو دوو کلو کې چې تاسې ورته اشاره وکړه. د غنمو خبره دا وه چې افغانستان، د صدراعظم مرحوم موسی شفيق په دوران کې له نړيوالې ټولنې نه مرسته وغوښتله. په هغه وخت کې هم پاکستان او هندوستان په جنګ کې وو، سر له دې نه [هم] دا غنم راورسېدل، اما بله برخه يې دا وه چې کورنۍ خاصتاً نيمروز، فراه... کې مجبورې شوې چې خپل اولادونه خرڅ کړي او دا يو عمده دليل و چې د نظام مشروعيت سوال لاندې راغی. [دا] يو دليل [له] جملې د دلايلو نه د داود خان د کودتا شمېرل کېږي.

درېيمه برخه د طالبانو په حکومتولۍ کې وه چې بيا هم عظيم تاثيرات يې پرېښودل [او] په کلونو اوږښت ونه شو. زما په ياد دي زه چې لومړی د بُن پروسې په چوکاټ کې [خپل] کلي ته لاړم، په لوګر کې [مې] حدود د ۴۰۰ خپلو خپلوانو سره روغبړ وکړ، معلومداره دا ټول ښاغلي وو. په دوی کې غوښه نه وه [ډنګر وو]. کابل تور و، ځمکه بالکل توره شوې وه او لسو ولاياتو ته چې زه ډېر په سرعت لاړم او پس له هغو نورو ته، [د] خلکو تقريباً څاړه هډوکو ته رسېدلې وه. پس له هغه نه هم له بده مرغه په دوامداره توګه په دې اخرو کلونو کې په ۲۰۰٦ کې په ۸ کې په ۱۱ کې۱۲ کې ۱۳ کې ۱۴ کې [دا وضعيت و]، اما ټول افغانستان پکې نه و، ځينو ځايونو باندې يې تمرکز درلود. خبره [دا] ده چې پخوا [وچکالي په څنډ راتله]. دا علمي تحليل استاد حميدالله امين چې د ادبياتو پوهنځي رئيس و او پس ته د پوهنتون رئيس و، د داود خان په دوران کې په يوه کتاب کې ليکلی و چې هر سل کاله [بعد] په افغانستان کې يو عمده وچکالي راځي او هر ۳۳ کاله [بعد] د هغه په حساب باندې، په منځنۍ توګه وچکالي راځي، دغه [حالت بدل شوی] اوس دا [موده] ښکته شوې ده. د افغانستان يو ګوټ کې يا بل ګوټ کې به دوامداره [د وچکالۍ] آثار وي او تېر ميلادي کال چې لا هم زموږ هجري کال دی، لا هم لويه وچکالي دوام لري .

داود جنبش: و به صورت کل به سطح جهانی هم ساينسدانان به اين عقيده استند که از زمانی که ثبت ميزان بلند رفتن درجه حرارت آغاز شده، سال ۲۰۲۳ ميلادی يعنی سال گذشته ميلادی گرم‌ترين سال بوده، و شنونده های ما حتماً واقعات ناگوار آتش سوزی‌ها در اروپا در جنگلات اروپا و امريکا وغيره و حتی در جنگلات خود ما را حتماً به خاطر دارند و پيش‌بينی اين است که اين درجه [باز هم] بالا ميرود و اگر اين تحقق پيدا کند و اين درجه بالا برود که

نتیجه آن میتواند خشک سالی، آتش‌سوزی و سیلاب های ویرانگر باشد در آن صورت…، در این جا میخواهم دو سوال [مطرح] کنم: سوال اول این است که تاثیرات عمومی جهانی آن چه خواهد بود؟

دوکتور غني: جهت واضح است. بدبختانه با تمام علم و تحلیل علمی و فهم علمی که وجود دارد، کشور های بزرگ جهان خاصتاً امریکا و اروپا حاضر به این نبودند و نه هندوستان و چین فعلاً این اراده را دارند که اقداماتی را کنند که از گرم شدن هوا جلوگیری شود. مسئله تغییر اقلیم لغت اساسی و تشریح اساسی نیست، ما با گرم شدن اساسی هوا سر و کار داریم و در این جا باید فراموش نکنیم که با وجودیکه ما میگوییم قاره زمین، در حقیقت ما در قاره آب زنده گی میکنیم، مقدار زیاد کره زمین تشکیل از آب است و اگر [میزان گرمای] آب در اقیانوس‌های عمده از ۱۴ درجه سانتیگراد بالا برود، هر درجه زنده‌گی بشریت را در خطر می اندازد. چون یخچالها در حال ذوب استند و با ذوب یخچال‌ها یک قسمت شهرهای دنیا ، که یک [تعداد] این شهرها قابل توجه و نفوس استند، زیر آب خواهند شد. از طرف دیگر تنها در آسیای جنوبی، قسمتی که [به ما] ارتباط مستقیم دارد، ده ها شهر از جهت خشکسالی از بین خواهند رفت. بناءً اثرات آن سرتاسری است،جهانی است و ضرورت به اقدامات همه‌جانبه جهانی دارد. [دستیابی به]هدف ۲۰۳۵ [مبنی بر حفظ درجه گرما درجهان در حدود ۱٬۵ درجه سانتی گراد بالاتر از زمان قبل از انقلاب صنعتی شدن] فعلاً ممکن نیست، غیر از این که اقدامات بسیار همه‌جانبه صورت بگیرد؛ مگر بدبختانه تنش‌های جهانی امکان همکاری را کمتر ساخته [و] افغانستان خاصتاً در نقطه خطر است.

داود جنبش: بله پوښتنه مې په همدې حساب ده، مثلاً که نوره دنيا کې وچکالي راشي په تېره بيا پرمختللو هيوادونو کې دوی يې غم خوري مثلاً دلته برتانيا کې چې زه اوسېږم، کله چې باران لږ وشي دوی بنديز لګوي، مثلا د موټرو په پريولو باندې، باغونو ته د پايپ په وسيله اوبو ورکولو باندې او نور تعزيرات لګوي چې د اوبو استعمال راکم کړي که غنم يې کم شي نورې لارې ورته جوړوي. زيات زيان به د افغانستان غوندې هيوادونه ګالي، زما پوښتنه اوس په همدغه [تړاو داده] که دا بحران ادامه کوي د افغانستان کومې سيمې به فکر کوئ ډېرې زيانمنې کړي او مخصوصاً کوم وګړي به ډېر زيان ويني؟

دوکتور غني: [د] سيمو له نظره لوی فشار فعلاً شمال شرق کې بدخشان، ټولو شمالي ۵ ولايتونو او بادغيس او هرات او فراه [کې] دی. اما اوس بايد وګورو چې اورښت به تر څه اندازې پورې وي؟

دويمه برخه د اوبو جريان دی چې تر څه حده پورې [دی]؟ له بده‌مرغه، نه سالنګ کې واوره شته او د ملګرو ملتونو د [وروستی] هوايي سروې له مخې، نه په بدخشان کې.

بله برخه معلومداره بېرته په کاريزونو، ويالو او [نورو پورې] تړلې ده. نو ضروري ده چې دې باندې پوه شوو چې خطر جدي دی. عمده‌ترينې برخې ته چې بايد انتظار وباسو للمې برخه ده. [په] للمي په برخه کې شمال شرق،

شمال او غربي ولایتونه بې‌حده د اهمیت وړ دي. بله دا چې د غنمو حاصلات به څه وي په عمومي توګه؟ هر کال چې للمه ښه راشي حاصل یې غنیمت وي، په هماغه اندازه زموږ واردات کمېږي. په همدې اساس باندې للمه یوه [مهمه] برخه ده. بله برخه یې هغه غنم دي چې په اوبو کېږي [آبي] او دلته عمومي اساس بیا د وارداتو خبره ده، په وارداتو کې خاصتاً د قزاقستان اهمیت موږ ته بې‌حده لوړ دی.

جنبش: وروسته به موږ په کرنه غږېږو که هغې کې تکرار راشي هم تکرار احسن به وي پروا نه کوي، خو غواړم دلته وپوښتم چې تاسې اشاره وکړه چې د باران کمښت زموږ للمي کر چې فکر کوم اکثریت هم دی په ډېرو ولایتونو کې، سخت زیانمنوي، حتی له منځه یې وړي. قزاقستان باندې به هم لږ [وروسته] وغږېږو اما پوښتنه مې دا ده چې نړیوال چاپېریال په بدلېدو دی، اوبه په کمېدو دي، اورښت نشته، واوره نشته، نو دې ته په کتو سره، آیا نور هغه وخت افغانانو ته نه دی را رسېدلی چې پر دې فکر وکړي چې آیا موږ غنم وکرو که غنم وارد کړو او د هغه پر ځای داسې بوټي چې ګټه یې ډېره ده او اوبه لږې مصرفوي، وکرو؟

دکتور غني: اصلي خبرې ته راغلئ. خبره [دا] ده چې موږ باید د خپلو اوبو په هرې قطرې باندې، د خاورې په اهمیت باندې، او په شرایطو باندې پوه شوو. اوله خبره دا ده چې موږ دا علم فعلاً نه لرو. که اکثره برخې د پرمختللو هیوادونو ته وګورئ، نن یو بزګر په دغو ټولو شیانو باندې پوهېږي، نه تنها بزګر پر دې پوهېږي، نن هغه رقم تراکتورونه پیدا شوي چې دا ټول شیان د کمپیوټر له لارې سنجوي. زموږ کرنې د متواترو جګړو او بې‌امنیو [له امله] سخت زیان لیدلی او نوی نسل مو له کرنې نه پردی کړ. بل، که په دې باندې غږېږو چې غنم باید ونه کرو، دا بې له دې نه چې یوې منطقوي همغږۍ ته ورسېږو او اوږدمهاله قراردادو ته ورسېږو او خاصتاً بې له دې نه چې قزاقستان سره په یوه اوږدمهاله قرارداد یعنې د لسو کلو او شلو کلو [توافق ته ورسېږو، ممکنه نه ده]، ځکه چې قزاقستان سره د غنمو په تولید کې بل څوک رقابت نه شي کولای. او په بدل د دې کې قزاقستان هم سبزیجاتو ته او هم میوه‌جاتو ته اړتیا لري. مګر دا، هم افغانستان کې ثبات غواړي او هم پوهه غواړي او هم د انتقالاتو موضوع‌ګانې او [نور مسایل] دي. له بلې خوا د وچکالۍ په برخه کې او د هوا په بدلون باندې بین‌المللي امکانات شته، اما دا هم پوهه غواړي او مشروعیت د نظام غواړي چې په څه توګه دا راخپل کړئ. ضرورت یو شی دی، ذهني وړتیا او آماده‌ګي او یو ملي دریځ بل شی دی. استغاثه [د] خدای جل‌جلاله دربار ته ضروري ده. موږ همېشه خدای جل‌شانه ته محتاج یوو، د بنده‌ګانو [او] د مخلوق [په حیث] باندې، اما له بلې خوا نه د حضرت یوسف (ع) کیسه په واضح توګه درښیي چې بشر مسوول دی چې اقدامات وکړي. او استغاثه ځکه زه مثبته ګورم چې خلک متوجه دي چې وځي، [د] باران [لپاره] زارۍ کوي، په عین حال کې ټولېږي چې څنګه ترتیبات ونیسي. نو بې له پوهې او بې د ودې له یوې منسجمې ستراتېژۍ نه، دا امکان نه لري. ضروري ده چې په دې پوه شوو، ټول ځان پوه کړو او نتیجې ته ورسېږو.

جنبش: د قزاقستان یادونه تاسې بیا بیا وکړه، فکر کوئ هغه وخت چې تاسې د شمال کوریډور پرانیسته او په دې باندې مو زیات تاکید کاوه، څکه چې وچکالي غذایي مصئونیت ځپي له منځه یې وړي تاسې دا [هېواد] مخصوصاً د غذایي مصئونیت له پلوه ، آګاهانه د [خپل تجارتي] سیاست محور ته راوست چې هغه باندې ډېره تکیه وشي که څنګه؟

دکتور غني: بالکل، یاد ولرئ، هر وار چې پاکستان لازمه ګڼله په هر دلیل چې به و، تورخم او سپین بولدک به یې تاړه. زه چې ولسمشر شوم ومې کتل چې اکثریت زموږ غنم له پاکستانه راځي او څکه [چې] ځان مو بندي کړی په خپل لاس، نو قزاقستان ته چې زه لاړم د هغه هیواد مشرانو سره، متخصصینو سره نتیجې [ته] ورسېدو او عین حال [کې] زموږ تاجران خدای دې یې لري، دوی سره وغږېدو او شرایط مو برابر کړل. په دوو کلو کې د قزاقستان غنمو ټول افغانستان کې د پاکستان غنمو سره رقابت کاوه او ارزانه وو. د کووېډ په دوران کې په یاد لرئ چې پاکستان بیا هم بنادر موږ باندې وتړل. اما قزاقزستان او ازبکستان او ترکمنستان هېڅ وخت موږ باندې بنادر ونه تړل. نو د شمال کوریډورونه خلاصول آګاهانه وو، اما په څنګ کې موضوع دا نه وه چې موږ پاکستان سره دښمني وکړو، بلکې دا وه چې پاکستان په دې پوه شي چې زموږ لاس تړلی نه دی. تله زموږ په لاس کې وه چې ویې ګرځو، څکه د پاکستان تړل مرکزي اسیا سره او د مرکزي اسیا تړل پاکستان سره، زموږ له اهدافو نه وو چې د یوې تلپاتې سولې او منطقوي همکارۍ په چوکاټ کې وشي. په عین زمان کې مه هېروئ چې غربي کوریډور چې له نیمروز نه چابهار ته او له چابهار نه تر بمبیي پورې موږ منځ ته راوړ، موجب د دې شو چې په کال کې په حدود د سل زره ټنه غنم د هندوستان له مرستې نه په مستقیمه توګه له دې لارې راشي. [دا چې] افغانستان د منطقې زړه دی باید په هره برخه کې ارتباطات ولري او دا ټول برابر کړي. دا هم مه هېروئ چې [کله] ما شرف د دې درلود چې د کمال خان بند پرانیزم، دا مو وویل چې نیمروز او فراه او هلمند او هرات، کندهار، دا برخه د افغانستان به یوازې د افغانستان کندو نه وي، د ایران کندو به هم وي. موږ د دې ظرفیت هم لرو چې ایران ته زښت ډېر مواد برابر کړو او تقریباً پنځلس اقلامو باندې په واضح توګه وغږېدو. له بلې خوا د هند بازار، د چین بازار او بیا د اماراتو بازار او د روسیې بازار موږ ته مهم بازارونه دي، دې ټولو باندې ضرور ده چې کار وکړو.

جنبش: ښه، یوه پوښتنه مخصوصاً دغه د تورخم او د نورو لارو د وروستۍ تړنې نه وروسته کېدای شي را پیدا شي [داده] چې که تاسې له قزاقستان او منځنۍ آسیا سره د غنمو د سوداګرۍ تړونونه کول آیا هغه وخت کې دا ممکنه نه وه چې د سبزیجاتو، ترکاریو او میوو تړون هم وشي څکه زموږ ډېرې میوې پاکستان ته ځي او هغوی چې بندر وتړي له منځه ځي او خرابېږي؟

دوکتور غني: جلغوزیو ته وګورئ. تړون د جلغوزیو ما وکړ او جلغوزي له قاچاق نه ووتل، د چین بازار ته ورسېدل او [پلان دا و چې] دوهمې مرحلې کې به انشاءالله تعالی [د] جرمني بازار ته ورسېږي. له بلې خوا سبزیجاتو [او]

میوه‌جاتو باندې موږ ډېر سخت کار روان کړی و. شپږ ښارونو د افغانستان: هرات، کندهار، کابل، جلال آباد، خوست [او] مزار... دې ټولو کې یوه عمده برخه د ښارجوړونې د کرنې عصري کول دي. ستونزه زموږ د صادراتو دا ده، بې له دې چې پروسس شي یعنې دویمې [مرحلې ته پورته] شي او معیارونه پوره کړي، هغو بازارونو [ته] چې [په] کې ډېر گران قیمتونه دي، نه رسېږي. اما دا مه هېروئ، هوایي کورېډور چې موږ هند او چین ته پرانیسته، په کال کې حدود د څلور سوه میلیونه ډالره یوازې د میوه‌جاتو صادرات مو هندوستان ته درلودل. نو ترتیب د دې په اساسي توگه کېښودل شوی، اما اوس باید په دې فکر شو چې خصوصي سکتور د افغانستان په دې کې له غلا [ووځي]. دلیل مې څه دی؟ ځکه زه غواړم ډېر واضح وغږېږم. د هند په صادراتو کې مخدره مواد گډ شول او نتیجه یې دا شوه چې هر بکس باید هغه خوا ته کتل شوی وی. ترمز ټول آماده و چې راساً [د] روسیې بازار ته، قزاقستان او [نورو] ته صادرات وشي، اما پانگوال دې ته حاضر نه وو. نو له یو لاس نه ټک نه [خېژي]. حکومت که مستقیم مسوولیت ونه لري، [خو] لاره خلاصوي اما نور خلك باید په دې کې [پروسه] راشي او له ښه مرغه [ځینو ځایونو کې راغلل]. له بلې خوا زه مننه کوم زموږ د پانگوالو او [نورو] نه. [یوازې] د چرگانو په برخه کې [له] یو میلیارد ډالرو نه ډېره پانگونه وشوله او موږ له ډېرو وارداتو نه مصئون شوو. دا ټولې د تجارت خونې چې بېلو بېلو سکتورونو [کې] جوړې شوې دي، اساس یې دا دی چې د دوی استازي په واضح توگه وغږېږي او موږ وکړی شوو چې منځمهالی او اوږدمهالی فکر وکړو.

له بله نظره، داخلي بازار ته هم باید په اساسي توگه توجه وشي چې موږ څنگه صنعتي کرنه منځه ته راوړو چې په اساسي توگه موږ ته دا توان راکړي چې صادرات مو لوړو بازار ته ورسېږي. د خلیج بازار په دې برخه کې ډېر د اهمیت وړ دی، لکه چې د روسیې بازار دی او بیا نور بازارونه دي.

جنبش: از زمان کووید من تجربه دست اول از افغانستان ندارم که مثلاً حالت چگونه بود و درحالیکه سرحدات بسته میشد یا تاثیراتی بر صادارت و واردات می آمد، کنترول قیمت ها چگونه صورت می گرفت. من فکر می کنم نقش خاص در این زمینه، شما اشاره کردید، سکتور خصوصی داشت. درسهای عمده آن زمان چه بود که عام شود برای حالات نظیر خشکسالی ها وغیره؟

دکتور غني: باز هم بین اقدامات عاجل و اقدامات اساسی باید تفکیك قایل شوید. اقدامات عاجل اول این بود که از ایران تنها هزارها افغان در روز می آمدند و این موجب آن شد که یك آوازه سرتاسری، یك افواه در کابل انداخته شود، که امکانات غذایی موجود نیست، برای دو روز قیمت‌ها صعود کرد و من فوراً اعلامیه دادم و به ملت صحبت کردم که ما ذخایر کافی داریم از گندم؛ و هم ترتیبات اساسی را گرفتیم. در این چارچوب در سکتور خصوصی افغانستان خاصتاً وارد کنندهای عمده و همچنین بخش پرچون، تماس اساسی و هماهنگی اساسی در تمام دوران کووید صورت گرفت. بر اساس آن، یاد هموطنان ما خواهد باشد که نان خشك اول در کابل و شهرها در خدمت

شان گذاشته شد و بعد از آن، تمام بودجه افغانستان را، و کمک های خارجی افغانستان را من دوباره عیار کردم، تا یک پروگرام وسیع کمک به ۹۰ فیصد مردم افغانستان عیار شود. یک بسته کمک‌ها به ۹۰ فیصد مردم افغانستان انجام گرفت، در عین حال، سکتور خصوصی افغانستان، باز هم از اینها متشکر استم، اقدامات واقعاً اساسی در قسمت کمک‌های بشری علاوه بر این در سرتاسر افغانستان انجام دادند و هم امکانات دیگر را فراهم کردند.

بخش دیگر این، دیپلوماسی منطقوی بود، که اول باز هم با کشورهای دوست آسیای مرکزی، قزاقستان و ازبکستان در قسمت ترتیبات خریداری گندم و همچنان انتقال آن [صحبت شد]، چون بدون کمک ازبکستان این غیرممکن است که تنها خریداری گندم صورت بگیرد [و مشکل حل شود] و همچنین همکاری ترکمنستان. تاجکستان معلومدار در این بخش همکار بود، سرحدات خود را بسته نکرد اما اینگونه امکانات در اختیار شان نبود. از این جهت، نوع همکاری این سه کشور: ترکمنستان، ازبکستان، قزاقستان با ما نقش اساسی بازی [کرد]. در پهلوی آن، ۱۰۰ هزار تُن گندم جدید از کمک‌های هندوستان از راه چابهار آمد که زمینه آنرا برابر کرد که ما بتوانیم، کمک های مستقیم، نوع توزیع گندم را به صورت مستقیم در ولایات مختلف انجام داده بتوانیم. همیشه بدبختانه یک ذهنیت در افغانستان موجود بوده که مردم افغانستان یا اقتصاد افغانستان تنها از دو بخش تشکیل شده، که شهری و دهاتی است. بخش سوم که بخش مالدار [است] که باز هم تنها به نام کوچی‌ها یاد میشوند فراموش میشود. یک بسته خاص کمک ها به آنها هم ترتیب شد.

نکته دیگر این بود که قسمی که قبلاً هم خدمت شما ذکر کردم، پلانهای درازمدت همکاری تمام سکتورها در چارچوب همکاری منطقوی گذاشته شد و هچنین خدمات صحی را سر تا پا مجبور شدم که از سر بررسی کنم و در این بخش خاصتاً مشکلات بسیار جدی را مردم با ارایه خدمتهای صحی از طرف نهادهای غیردولتی داشتند، که یک قسمت اش حالا تثبیت شده با اسناد [نهادهای معتبر]، در حقیقت صاحبهای این شرکتها بعض مامورین عالی رتبه دولتی بودند، سر تمام این‌ها غور مجدد شد.

نتیجه ییکه از این می گیریم [این است که] باید ابعاد مختلف مشکلات خود را هم در چارچوب اقدامات عاجل و هم در اقدامات وسط مدت [بررسی کنیم]. یکی از اقداماتی که هم عاجل و وسط مدت و درازمدت را با هم ارتباط می داد، طرح دیجیتل سازی افغانستان، توزیع تذکره برقی به پنج میلیون مردم افغانستان و ایجاد سیستمی بود که در ماه سپتمبر [۲۰۲۱ باید] تمام پرداخت ها به صورت برقی صورت می گرفت که به صورت اساسی ما از این مشکلات داد و گرفت پولی خلاص شویم و بر اساس این اولویت‌های خود را [تعیین کنیم]. اولویت‌بندی بودیجه در این شرایط کم کردن مصارف بیجا و تمرکز بر خدمات و خاصتاً اعتماد بر مردم و تقویه بازار [است]، چون در افغانستان بازار تقریباً به تمام نقاط افغانستان رسیده‌گی کرده می تواند، به شرطی که پول داشته باشیم. و پول از کجا میشد؟

پروگرام‌های وسیعی را که شما در بخش های دیگر اشاره کردید مخصوصاً در کابل، در غرس درختها و کارهای عاجل کاریابی، نکاتی است که متمم این بود.

جنبش: وچکالي لکه په ټولنه کې افراط او تفریط، یو ځل هوا وچه شي، اورښت نه وي په میاشتو میاشتو، اوونیو اوونیو، یو ځل بیا یو طوفاني ورښت راشي چې بیا سېلابونه راوځي او وراني پېښ کړي. د دغو سېلابي اوبو کنترول باید اوس فکر کوم لومړیتوب ته راشي. خلك تر څه ځایه پوه شوي دي، هغه ورځ مې د ارزګان یوه ویډیو کتله خلك هغه شي ته چې چېك ډیمونه وایي راټول شوي وو چې واړه واړه بندونه جوړ کړي چې اوبه را ایسارې کړي. څومره کار هغه وخت کې وشو او دغه کار د وچکالی د عواقبو په کنترول کې څومره مهم دی؟

دکتور غني: دې برخې کې زښت ډېر کار وشو ځکه چې ما اساس د ملي پیوستون کېښود او پس له هغه نه هم مې د ولسمشرۍ په دوران کې دا پروګرام [بدل کړ] یوه ملي تړون باندې؛ سلها بندونه جوړ شوي دي. دلته یوه خبره ډېره واضح ده ځکه چې نړیوال بانك یوه څېړنه کړې وه. [په] اوبو باندې پانګونه په افغانستان کې، په دې چېك ډَمونو او نورو کې، ٪۱۴۰ ګټه لري، په [داسې] حال کې چې برېښنا، په دې پړتله ۱۴ فیصده ګټه درلوده، نو اوبه حتمي او اساسي دي. کاریزونو ته مو که وګورئ زابل او نورو برخو کې خاصتاً موږ دا کاریزونه له سره آباد کړل او د اوبو ټولو برخو کې، ما یو اساسي پلان کېښود، ځکه دا خبره د سیلاب له یوې خوا نه او وچکالي له بلې خوا نه عمده شمال ولایاتو کې او ځینو غربي او معلومدار جنوبي برخې کې هم، هر کال کې دوراني ده. شپږ میاشتې وچکالي وي، شپږ میاشتې سېلابونه وي. د دې مدیریت موږ ته حیاتي او اساسي دی. خبره بیا هم په دې راځي چې علمي برخه د دې او ولسي برخه د دې، دوه لاسونه دي چې باید یو شي. ځکه ټولو ابعادو د اوبو لګولو باندې [باید] ولس پوه شي. موږ اوبه بې‌ځایه لګوو. ډېرې لګوو او په هغو شیانو یې لګوو چې نتایج یې په پرتله کې نشته. ولس د افغانستان د مثال په توګه، که پوه شي چې مڼه نتیجه ورکوي او زردالو ارزان شوي دي، څلور کاله صبر کوي، بدلوي یې یا بالعکس. اما دلته پوهه په کار ده چې [د] ټول بازار نتایج څه دي؟ او د بازار جوړول بې د دې نه چې دولت کې د دې توان وي او خصوصي سکتور کې هم دا پوهه وي او یو لید او یو ثبات موجود وي چې د دوی پانګه نتیجه ورکوي، بې له هغه نه دا سره نه شي ټولېدی. زه د ارزګان ولس نه مننه کوم او له ټولو نورو افغانانو نه چې د اوبو په اهمیت باندې پوه شوي دي، ځکه دا زموږ عزت دی او زموږ ژوند دی. اما یوازې چك ډیمونه کافي نه دي. دا ټول باید سره یو شي، په دې ترتیب موږ له منطقي سره یوې نتیجې ته رسېدلی شوو چې د هغه په چوکاټ کې د افغانستان اوبو ته د یوه نعمت په حیث باندې وګوري، نه اوس غوندې چې هر یوه لاسونه [بډ وهلي] چې څنګه زموږ [حق] خپل کړي. [دوی] بې‌ځایه پروپاګند [کوي] چې دې کې د افغانستان حق نشته، داسې خبرې نه د دوی په ګټه دي او نه زموږ په ګټه. اوبه خدای جل‌شانه موږ ته راکړي، اما په عین حال کې په شریعت کې د اوبو د تقسیم اصول

واضح دي او موږ په هغه باندې ټينګ درېدلي يوو، اما ضرور ده چې په اوسنيو شرايطو کې يوې منطقوي نتيجې ته ورسېږو چې هم زموږ خير په کې وي او هم د نورو.

جنبش: د اوبو په مسئله باندې به کله چې سيندونو باندې غږېږو مفصل هلته هم راشو، تر هغو چې په وچکالۍ پورې اړه مومي، ځينې ورېږ توصيې هم کېداى شي چې مرسته وکړي. د مثال په توګه هغه څه چې ما ليدل، اوس خو واورې نشته مګر هغه وخت چې موږ محصلين وو يا متعلمين وو، خلکو به واورې اخيستې د کابل سيند ته به يې په کابل کې غورځولې او هغه به اوبه کېدې لاندې به تلې، دغسې کارونه [بايد ونه شي] يعنې خلك د خپلې سيمې هغه سيمه ييز امکانات ضايع نه کړي ويې ساتي، چې کله وچکالي راځي چې هغه، مثلاً دغه اوبه د ځمکې لاندې لاړې شي او هغه اوبه ډېرې شي.

دکتور غني: دا ضرور ده ځکه «سيل‌بُر» کلمه باندې تاسې پوه ئئ، ټول ولس پوه دى. زموږ د سيل‌بُرونو مديريت نشته. د مثال په توګه د کابل او چارېکار په منځ کې پس د دې نه چې هلته يو سيلاب راغلى و، ما له هيليکوپټر نه تقريباً شلو نه ډېر سېل‌بُرونه تشخيص کړل، د کابل په غرونو کې هم، اما د دې مديريت نشته او زموږ خلك نه پوهېدل. بار بار وزارتونو سره وغږېدم، اخر چاره مې په چين کې پيدا کړه. چين کې ولس د خاورې بندونه جوړ کړي دي، دا اوبه چې راځي فوراً ټولېږي او راتلونکی لپاره هم تيې او غرونه شنه کېږي او هم ټوله سلسله . طبيعت يو نظام دی، هر څاڅکی د اوبو چې ځمکه کې ننوځي، بېرته نظام د دوام او د تداوم برخه ده، اما هره قطره چې ضايع کېږي او تبخير ته ځي، دا يوه ضايعه او يوه فاجعه ده، نو [د] کلي په سطحه، د ولسوالی په سطحه، د ولايت په سطحه، د زونونو په سطحه او د وطن په سطحه اقدامات ټول ضرور دي. انسانان يو بل ته بايد لاسونه ورکړي او زړونه سره يو کړي چې د دې وچکالی نه هم په عاجله توګه موږ څنګه ووځو او هم په دوامداره توګه خپل ژوند په يوه لسيزه کې چې په عمومي توګه هوا تودېږي، [څنګه] خوندي کړو.

جنبش: و من در آغاز، در مقدمه گفتم که یک بخش دیگر مهم اقتصاد کشور ما و شما هم اشاره داشتید که مالداری است و صدمه ییکه از خشک‌سالی می بیند کمتر از زراعت نیست. من به خاطر دارم در دوران زمان حاکمیت اول طالبان تقریباً در ولایات شمال شرق، شمال و شمال غرب ما مواشی نمانده بود از بین رفته بود، شاید در سالهای بعد وقتی خشک‌سالیها [ی دیگر] آمد نتیجه [باز هم] همین بوده باشد، البته این هم به مصئونیت غذایی ما رابطه دارد، مخصوصاً به مواد پروتین دار، گوشت وغیره. پیشبینی ها چه است که تاثیر کُلی و دراز مدت این گونه خشک‌سالی ها که حالا ادامه دارد بر مالداری ما و آینده آن چه خواهد بود؟

دکتور غنی: در قسمت اول خدمت تان عرض کنم، بررسی های جهانی که انجام شد تنها مالداری در شمال نبود، تقریباً ۸۰ تا ۹۰ فیصد مالداری افغانستان در دوران حاکمیت [اول] طالبان - از جهت خشک‌سالی و صدمات قبل

از آن که از جهت مهاجرت دیده بود- از بین رفت. مشکل احیاء مالداری این است که مال را از بیرون آورده نمی توانید، چون اگر با شرایط منطقه مطابق نباشد، مشکلات عظیم صحی را ایجاد می کند. از نگاه اهمیت مالداری... اهمیت مالداری را بدبختانه قسمت زیادی از مردم که در اداره افغانستان مسوولیت داشتند درک نکرده بود. بنابرین همیشه این را نادیده گرفته بودند. از احصائیه گرفته [تا دیگر بخش ها]. خوشبختانه ما توانستیم شوراهای کوچی‌ها را و مالدارها را ایجاد کنیم و در زمانی که در ولایات شمال افغانستان یر مالداری ما مشکلات زیاد آمد، کمک های واضح [صورت گرفت]. فعلاً هم آثاری که موجود است، قیمت مال پایین است، در حال پایین آمدن است و این علامه خطرناک است. من نمی فهمم اگر در هیلیکوپتر به شمال افغانستان یا شمال شرق افغانستان سالهایی که مناطق سبز باشد سفر کرده باشید، این یک نعمت بزرگ طبیعی است. میلیاردها دالر مراتع ما می ارزد. از این بخش یکی از مهمترین چراگاه های ما دریاچه شیوه در بدخشان است که یک حرکت عظیم مالدارهای ما در این بخش صورت می گیرد، اما شرایط تسهیل برای اینها ضروری است.

نکته کلیدی دوم این است، ایا مال به پای خود حرکت می کند یا ترانسپورت عصری برایش برابر میشود. چون هر وقت که مال به پای خود حرکت کند، با حرکت روزانه یا مخصوصاً هفته‌وار یا ماهانه، گوشتی را که کمایی می کند از دست می دهد.

نکته سوم این است که شرایط عمومی باید سنجیده شود، که مراتع عمده افغانستان از جهت ایجاد شرکت‌های مشترک بین ده‌نشین ها، شهری ها و مالدارها به چه رقم باید به وجود بیاید تا منافع مشترک باشد. در این بین یک قسمت از اشخاص استفاده‌جو از تمام سه بخش همیشه موجب ضدیت شده اند. در شرایط فعلی کاریابی به دونیم روز در هفته تقلیل یافته [است]، جهت مثبت [اش] این است [که] قیمت افغانی نسبتاً ثابت است، اگر قیمت ثابت بماند امکان خرید وجود دارد، اما اقشاری زیادی استند که قوت خرید ندارد. یکی از معیارهای عمده این است که در ماه چند روز یک خانواده افغان دسترسی به گوشت دارد و این تقلیل بسیار شدید یافته است. و یکی از معیارهای عمده که مردم برای تان می گوید این است که، که [چه کسی] روز سه بار نان میخورد؟ که روز دو بار نان میخورد؟ که روز یک بار نان میخورد از نگاه خانواده؟ این نکات، نکات ضروری است و توجه به مالداری ما باز هم تنها اقدامات عاجل نیست، یک مدیریت اساسی مراتع افغانستان را، تپه‌های افغانستان را، کوه‌ها را و جمع اساسی این را از نگاه چراگاه ها و اهمیت چراگاه، حفظ چراگاه و جلوگیری از غصب چراگاه را ایجاب می کند.

جنبش: او مهمه به وي چې یادونه وکړو چې مالداري یوازې د غوښې او لبنیاتو له پلوه مهمه نه ده، مثلاً پوستکي یې، کولمې یې، وړی یې اوغیره... دا پخپله هم یو ارزښت دی او په عین حال کې مې غوښتل، تاسې وویل استاده خپل څاروي که له منځه لاړ شي له بیرون نه یې نه شئ راوړی ځکه له محل سره که تطابق ونه لري زیانونه پېښوي،

ماته د فیض محمد کاتب په تاریخ کې یوه مسئله را یاده شوه چې امیر عبدالرحمن خان له استرالیا نه پسونه راغوښتي وو فکر کوم ډېر ژر مړه شول، نتیجه یې ور نه کړه.

دکتور غني: بالکل، دا ډېره علمي خبره ده او ضرورت دی. موږ وغږېدو په دې باندې بار بار، اما وده یې ضروري ده او زموږ مالداري خاصتاً په دې باندې [ولاړه] ده. یوازې میمنه کې [د] نولسمې پېړۍ په [پای] کې یو میلیون پسونه وو. د کونړ [د] غوايي [نسل] آوازې او افسانې دا وې چې د سکندر [مقدوني] خلکو یونان ته یوړل. نو ضرور ده چې په دې ابعادو باندې پوه شوو.

همدا رقم زموږ ونې [هم] دي. زموږ انګور په مفته متخصصینو هندوستان ته انتقال کړل او موجب د دې شول چې د انګورو ډېر لوی باغونه هلته [رامنځه] شي. موږ هغه سره جنجال نه لرو، اما دا چې دا د افغانستان یوه پانګه وه او بې له متقابلې ګټې نه انتقال شي، نتایج لري. همدارقم نور ابعاد د دې.

بله برخه یې هم ډېره ضروره ده چې مالداري د ارزښت یو زنځیر دی او بدبترین مثال یې دا و چې د غزني بهترینې وړۍ به پاکستان ته تلې او بیا به بېرته د قالینو لپاره په موږ باندې خرڅېدې. نو که د ارزښت زنځیر ته ونه ګورئ او هره حلقه په زنځیر کې پخه نه شي [ګټه نه کېږي]. هره حلقه د کار زمینه، د ګټې زمینه او د ودې زمینه برابروي. اما که بې تفاوته ورته اوسئ، نتایج یې منفي دي، نور ورنه ګټه کوي او موږ به [هسې ورته ناست] یوو.

جنبش: وچکالي هم لکه د نورو بحثونو غوندې یوه پراخه موضوع ده چې بېلابېلو اړخونو باندې یې – اقتصادي، صحي، چاپېریالي او نورو باندې یې غږېدلی شوو، خو رالنډ به یې کړو ، مګر دا چې تاسې څه زیاتول غواړئ، وروستۍ برخې کې زما پوښتنه دا ده چې وچکالي نړیواله ستونزه ده، همدلته برتانیه کې د باران اندازه له هغه وخته چې زه ورته راغلم، بیخي کمه شوې ده. هوا توده ده، دغه ژمي کې هوا توده ده او داسې نور... دا نړیواله مساله ده او عواقب یې هم نړیوال دي. زما پوښتنه دا ده چې د دغې نړیوالې پدیدې عواقبو ته په پام سره ایا مبارزه هم ورسره مثلاً همدغومره نړیواله ده، یا مثلاً زموږ په سیمه کې سیمه‌ییزه ده؟ هیوادونه پوهېږي چې په ګډه یې غم وخوري؟

دکتور غني: هم مثبت اړخونه دي [او] هم له بده مرغه منفي اړخونه دي. مثبت اړخونه یې دا دي چې ځینې اقدامات شوي او ځینې نور ابتکارات خاصتاً هغه جلسه چې په دوبۍ کې جوړه شوه په چاپېریال باندې تېر کال، نوي اساسات یې پرېښې دي، نوي امکانات شته، نوي صندوقونه شته، نوي ابتکارات شته، هم د دولتونو له خوا، هم د لویو شرکتونو له خوا او هم د بنسټونو له خوا چې فاونډېشنونه او [نور] دي. بده مرغه یې دا ده، موږ داسې منطقې کې ژوند کوو خاصتاً جنوبي آسیا کې چې چاپېریال باید د همغږۍ یو تهداب وي او له بده مرغه [داسې] نه ده، ځکه له چاپېریال سره لوبې کېږي. یوازې د افغانستان [د] ځنګلونو بې رحمانه صادراتو یا وژلو ته [وګورئ]، زه ورته وژل وایم، [ځکه] دا یوازې پرې کول نه دي. پاکستان کې یو میلیارد ونې کېنول کېږي او د افغانستان ځنګلونه د هغوی قاچاقبران د

شبکو په همغږۍ سره وړي. منطقه دې ته تیاره شوې نه ده. ما ډېر کوښښ وکړ چې دې برخې کې [همغږي وشي] اما سیاسي او امنیتي رقابتونو له بدهمرغه د دې مخه نیولې وه. ضرورت د دې شته چې [دا] ابتکار د منطقې راتلونکي لپاره [وشي]، [ځکه] بې د چاپېریال له مدیریت نه موږ خپل یو ګاونډي سره په دوامداره توګه روابط نه شوو ساتلی او نه یې هغوی له موږ سره ساتلی شي او نه یې له یو بل سره. نو ضرور ده چې دې برخه کې توجه وشي.

بله [برخه] یې د متخصصینو روزل دي چې هم لنډمهال، منځمهال او اوږدمهال [فکر وشي]. زه یو مثال درکوم، [پخوا به] اساس د بندونو د جوړولو په سل کاله معلوماتو استوار و، ټوله هغه موده د لسو کالو کې چې زه نړیوال بانک کې وم [همداسې وه]، خو اوس پوهېږئ په هالنډ کې چې د ټولو نه د اوبو په انجینرۍ کې پرمختللی هیواد دی، زر کاله معلومات په نظر کې نیسي، ځکه چې شرایط بدل شوي [دي]. همدارنګه د ویالو کنکریټ کول. عمومي فرضیه د نړیوال بانک، آسیایی بانک او نورو مرسته کوونکو[دا وه] چې دا به ۴۸ فیصده ګټه ولري، [خو] اکثریت یې له ۱۴ فیصدو جګه نه ده. بل د دې چاپېریالي تاثیرات نه وو سنجول شوي.

[بله] د ټولو نه عمده خبره ښېرته د هیوادوالو ده. هر بزګر د افغانستان، هر ځوان د افغانستان [او] هره مېرمن باید په دې پوه شي چې د اوبو مدیریت څنګه وکړي [او] د چاپېریال مدیریت څنګه وکړي. زموږ اسلامي کلتور کې چاپېریال باندې بهترین نظریات [موجود] دي او هم د تاریخي تمدني [پلوه شته]، اما موږ ورنه پردي شوي یوو. هر شی چې عصري دي، معنی یې دا نه ده چې ګټور دي. نو ضرور ده چې ښېرته دې موضوع [ته] په اساسي توګه راشو.

بل خوا په دې باندې پوه شئ [چې] یو انتخاب سره مخامخ یوو. انتخاب څه دی؟ که په دې [نظر] یوو چې د افغانستان د وچکالۍ او د بېوزلۍ نه وتل ملي مشروعیت، منطقوي مشروعیت او بین‌المللي مشروعیت غواړي، نو باید دې باندې نتیجې ته ورسېږو [چې] دا مشروعیت څنګه راځي؟ د دې پروسه به څنګه راځي؟ او ولس د افغانستان به څنګه د خپلو حقوقو څښتن کېږي؟ او که بله خوا فیصله [دا] کېږي چې دا د یوه اقلیت حق دی او نور حق د هېڅ خبرې او منطق او ګډون نه لري، نو د هغه د نتایجو مسوولیت هم باید په واضح توګه واخیستل شي.

جنبش: ډېره مننه استاده. رئیس جمهور اشرف غنی از حضور تان در این بحث بسیار تشکر می کنم و از شنونده ها هم بسیار تشکر که تا الحال با ما بودید، این برنامه را در همینجا به پایان می بریم. ژوندي اوسئ استاده.

دکتور غني: مننه له تاسې نه، تشکر از تمام شنونده‌گان و هموطنان.

زنده باد افغانستان، یشه سین افغانستان، تل دې وي افغانستان.